مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۲/۲۰

# غـــزل

زموږ په حسن قصیدې نصاب کې نشته
ستا په سترګو ان راغلی روغ کتاب دی
څوک مې نه پوښتي علت د تنها ناستې
له ډېر سترګو مې ماښام نور په عذاب دی
چا و نه ویل تبریک له غمه خلاص شوې
د اشنا بیلتون تېر شوی تېر حساب دی
یار مې سر په ټېپي زړه ایښی درزا ته
حقیقت دی کې لیدلی مې کوم خواب (۱) دی
د ښاغلو پیمانو تشېدل سوال شي!!!
دا نظام د میخانې بیخي خراب دی (۲)
بیا ماښام په یو څو تشو وعدو تېر کړم؟
ساقي چیرته یې؟ د خم دې څه اسباب دی
دا نشه خدای نازولې په دې بیه
ستا د سترګو بوسه خوند لکه شراب دی
د اور ذات ته چا پوکلي (۳) په ګناه دي
ادم زاد لا چا خپل کړلی په ثواب دی
دا چې خود بایلمه ورو - ورو بې خودی ته
دا آهنګ چیرې؟ شاعر یې کوم بې تاب دی؟
ته هم توري خرڅوې په غټو - غټو
په نظر دې ګرد پریوتی د تراب (۴) دی

۱۹ ستمبر ۲۰۲۲/ کابل ۱۰:۳۰pm

---

۱ــ خواب: د خوب په معنا دی.
۲ــ دا بیت د اردو ژبې د یو بیت (نظامِ میکده بگڑا ہوا ہے اس قدر ساقی ـ اسی کو جام ملتا ہے جسے پینا نہیں آتا) تر اثر لاندې لیکل شوی.
۳ــ پوکلي: د پوک وهلي په معنا دی.
۴ــ تراب خاورې ته وایي؛ خو دلته یې تعبیر بل شی دی.

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ